AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند

۲۰۱۹/۰۸/۲۴

# زموږ په منځ کې یو واټن و

## دا و زر نوري کلونه



ستاسو سیمه تکه شنه وه،

ته هم شنه وې او خندانه

زموږ سیمه کې جګړه وه او سپېره وه

زه هم بڼه دوړو کې پټ وم

او پر سر مې راته بار وو ډېر غمونه

د ککرې په ګومبزه کې چاودنې

د بمونو ډېر غږونه

ستا په مخ کې سره ګلونه

زما پر لاره وې سرې وینې

او سره شوي ګودرونه

ته یې خپله اټکل وکه

ستاسو سیمه تکه شنه وه او آرامه

زموږ سیمه کې جګړه وه او سپېره وه

اوس ته خپله راته وایه:

چې ته چېرې او زه چېرې

زموږ منځ کې یو واټن و

لرېوالی یې ډېر نه و

دا و زر نوري کلونه

۲۰۱۹/۰۶/۱۰

هیدرسلیف

ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ